# ملګرو ملتونو، ګوګل او سیسکو  د نړیوالې بېوزلۍ په وړاندې د مبارزې په لار کې انټرنیټي سرچینې پر لیکه کړې

**د زرېزې د پرمختیایي موخو د څارنې ویبپاڼه د پرمختیایي موخو په لور پرمختګ څاري**

ملګري ملتونه، نومبر ۱- ملګرو ملتونو، ګوګل او سیسکو نن هغه ویبپاڼه پرلېکه کړه چې تر ۲۰۱۵ پورې د نړیوالې بېوزلۍ د کمولو په لور پرمختګ څاري. د بېوزلۍ کمونه د هغه نړیوال کمپاین برخه ده چې د زرېزې د پرمختیایي موخو په نامه یادېږي.

د ملګرو ملتونو سرمنشي بان کیمون د ویبپاڼې د پرانیستلو پرمهال، چې د زرېزې د پرمختیایي موخو د څار د ویبپاڼې په نامه یادېږي، د نړیوالې همکارۍ د زیاتولو پر بیړنۍ اړتیا رڼا واچوله. ویبپاڼه په دې پته کتلی شی:www.mdgmonitor.org .

سرمنشي وویل "د ټاکل شوو موخو لاسته راوړنه یوه نړیواله دنده ده، چې د دولتونو، نړیوالو سازمانونو، خصوصي شرکتونو او مدني ټولنې ګډ کار ته اړتیا لري." ده زیاته کړه چې "زه د ګوګل او سیسکو مننه کوم چې له موږ سره یې د زرېزې د پرمختیایي موخو د څار د ویبپاڼې په جوړولو کې مرسته وکړه— دا د هغه نوښتګر ګډ کار یوه ښه بېلګه ده چې موږ ورته اړتیا لرو."

د دغې پروژې په پرانیستلو کې له سرمنشي سره د ملګروملتونو د پرمختیایي ادارې عمومي رییس کمال درویش، د سیسکو مرستیال رییس کارلوز ډومینګز او د ګوګل د ځمکې او نخشو د انټرنیټي پاڼې مشر ټیکنالوجیست مایکل جونز هم برخه اخیستې وه. نوموړې پروژه د پرمختیا د څارنې په لار کې یو مهم نوښت دی.

د زرېزې د پرمختیایي موخو د څار ویبپاڼه نړدې د نړۍ په هر هېواد کې د ټاکل شوو موخو په لور پرمختګ په یو شمیر کټګوریو کې څاري. دغه ویبپاڼه د پرمختیایي شاخصونو لکه عامې روغتیا، پوهنې او د ښځو د پیاوړتیا په اړه له بېلابېلو سرچینو نه وروستني معلومات وړاندې کوي. په ویبپاڼه کې هڅه کېږي چې نړۍ ته د پرمختګ د ساحو او د پرتو ننګونو د

ښولو له لارې د نړیوالې ټولنې پام د زړېزې پر موخو ټینګ وساتل شي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پالیسي جوړوونکو او د پرمختیایي چارو کارمندانو ته مهم معلومات وړاندې شي.

د ویبپاڼې کتونکي کولای شي په یوه برخه کې د ګوګل د ویبپاڼې له لارې د ځمکې هر ګوټ ته لاړ شي او له هوا نه هغه ځایونه وګوري چې د زړېزې د پرمختیایي موخو د لاسته راوړنې لپاره په کې کار کېږي. د یو څو بټنو په کېکاږلو کتونکي کولای شي د ملګرو ملتونو له خوا راټولو شو معلوماتو او د هېوادونو ارزوونو ته لار پیدا کړي. د زړیزې د موخو د څار د ویبپاڼې له لارې د ګوګل (Google Earth) تر ۳۰۰ میلونه ډېر کاروونکي کولای شي د زړیزې د موخو په هکله لا ډیر څه زده کړي او چې څنګه کېدای شي دغه موخې ترلاسه شي. دغه معلومات به ډیر ژر د نړیوال پوهاوې د کمپاین د یوې برخې په توګه په ګوګل ارت کې را ښکاره شي او اوس کېدای شي د www.mdgmonitor.org ویبپاڼې له لارې راښکته شي.

د ګوګل ویبپاڼې نه مایکل جونز څرګنده کړه "موږ په ګوګل کې ویاړو چې د ملګرو ملتونو له پرمختیایي ادارې سره په ګډه عامو ولسونو ته دغه ارزښتناکه معلومات د لاسرسي وړ ګرځوو،". ده په خپلو خبرو کې همدارنګه وویل "موږ هیله لرو چې د زړېزې د پرمختیایي موخو او د بشري پرمختیا د مسایلو په هکله به د ازادانه خبرو اترو لمن لا ډیره خپره شي او موږ باور لرو چې ګوګل ارت او په نړۍ کې د د دغې ویبپاڼې کاروونکي به په دغه لار کې مهم نقش ولوبوي. "

سیسکو چې په خپل کار او ټیکنالوجي کې ټولنیزو مسایلو ته ځای ورکوي، د زړېزې د پرمختیایي موخو د څار د ویبپاڼې په جوړولو کې تخنیکي او مالي مرسته کوي. د سیسکو د نړیوال ټولنیز مسؤولیت د نوښتونو اکثریت د زړېزې د پرمختیایي موخو په څیر دي لکه د دوی د نړیوال ښوونیز نوښت چې د ټولو ماشومانو لپاره د لومړنیو زدکړو د برابرولو هڅه کوي.

" سیسکو باور لري چې د ټیکنالوجۍ ځواک او ورسره بشري څرګنتیا کولای شي نړیوالې ټولنېزې او اقتصادي مسالې په اغیزمنه توګه حل کړي او په دې توګه باثباته بدلون ته لار اواره کړي. موږ هم پوهېږو چې د زړېزې د موخو د رښتیا کولو لپاره ګډ کار ډېر ارزښت لري. سیسکو ویاړي چې د دې ارزښتناکې هڅې یوه برخه ده او کلک باور لري چې د زړېزې د موخو د څار ویبپاڼه کولای شي په اغیزمنه توګه د مهارتونو او سرچینو مخه د اړ خلکو په لور واړوي او دغو موخو ته د نورو د رسېدو بریا روښانه کړي. دغه ټکي د سیسکو مرستیال ریس کارلوز ډومینګز په خپلو خبرو کې څرګند کړل.

د بانټرن شرکت هم په وړیا ډول د زړېزې د موخو د څار د ویبپاڼې د نښو د جوړولو له لارې مرسته کړي.

په ۲۰۰۰م کال کې په نیویارک کې د نړۍ د ۱۸۹ هېوادونو مشرانو هوډ وکړ چې د سختې بېوزلۍ او لوږې د له منځه وړلو، ټولو نجونو او ماشومانو ته د لومړنیو زدکړو د برابولو، د ښځو او نارینه وو د مساوات او د ښځو د پیاوړې کولو، د ماشومانو د مړینې د کمولو، د میندو د روغتیا د ښې کولو، له ایډز، ملاریا او نورو ناروغیو سره د مبارزې کولو، د چاپېریال د پایښت د باوري کولو او د پرمختیا لپاره د نړیوال مشارکت د رامنځته کولو په لور به په ټاکلې وخت کې د اندازه کولو وړ پرمختګ کوي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره، د زرېزې د پرمختیایي موخو د ځارونکي په توګه، د زرېزې د موخو د ځار ویبپاڼه د پرمختګ د څرک لګولو او په عیني وخت کې د اګاهې د کچې د لوړولو لپاره د یوې نوښتګرې لارې په توګه پیل کړې ده.

که څه هم د زرېزې د پرمختیایي موخود اعلانولو څخه شاوخوا ۸ کاله تېرشوي، خو بیا هم نن څه کم یو میلیارد خلک په ورځ کې له یو ډالر نه کم عاید باندې ژوند کوي، هر کال شپږ میلونه ماشومان تر پنځه کلنۍ وړاندې د سؤتغذیې له امله مري او په ډېرو غریبو هېوادونو کې تر نیمایي کم ماشومان په لومړنیو ښوونځیو او تر ۲۰ فیصده کم یې منځنیو ښوونځیو کې دي.

ښاغلي درویش په خپلو خبرو کې وویل "دا چې د یو بتن په کېکاږلو سره د بشري پرمختیا په لار کې د نړۍ بریاوې او ننګونې ښیی، د زرېزې د پرمختیایي موخو د ځار ویبپاڼه هیله لري چې نوې سرچینې پر لیکه کړي او د ټولو لپاره د یو برابر او پاینده نړۍ د رامنځته کولو په لار کې خوځښت چټک کړي."

###

د لازیاتو معلوماتو لپاره:

په نیویارک کې: کریستینا لو نیګرو، د ټیلیفون شمېره: ۵۳۰۱-۹۰۶-۲۱۲ ۱ + د برېښنالیک پته: christina.lonigro@undp.org یا پابلو باز، د ټیلیفون شمېره: ۶۱۲۷-۹۰۶-۲۱۲ ۱ + د برېښنالیک پته: pablo.basz@undp.org

**د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې په هکله:** د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د ملګور ملتونو هغه نړیواله شبکه ده چې له خلکو سره د پرمختیایي اړتیاوو د پوره کولو او د ښه ژوند په جوړولو کې مرسته کوي. موږ په ۱۶۶ هېوادونو کې یو او له دولتونو، مدني ټولنو، او خصوصي سیکټور سره د باوري شریک په توګه مرسته کوو چې د نړیوالو او ملي پرمختیایي ننګونو لپاره د اواري خپلې لارې برابرې کړي. لازیات معلومات کېدای شي په **www.undp.org** کې ومومی.

د ګوګل په هکله: د ګوګل د پلټنې نوښتګرې ټکنالوجي هر ورځ په ټوله نړۍ کې په میلونونو خلکو ته معلومات رسوي. ګوګل چې په ۱۹۹۸ کې د سټینفرډ پوهنتونو د دکتورا د زده کوونکو لارې پیج او سرګي برین له خو پیل شو، نن ورځ د نړۍ په ټولو بازارونو کې د ویبپاڼو په سر کې ده. د ګوګل د اعلانونو خپرولو پروګرام د هرې

کچې له تجارت سره مرسته کوي چې د پام وړ پایلې ترلاسه کړي او په عیني حال کې د انټرنیټ د کاروونکو عمومي تجربه ډیروي. د ګوګل مرکزي دفتر په سیلیکان ویلي او فرعي دفترونه یې د امریکا، اروپا او اسیا په بېلابېلو برخو کې دی. د لازیاتو معلوماتو لپاره، *http://www.google.com* ته لاړ شی.

د سیسکو په هکله: سیسکو په شبکه جوړولو کې په نړۍ کې سر ده او د خلکو د نښلولو، اړیکو او ګډ کار په څرنګوالي کې بدلون راولي. د سیسکو په هکله معلومات کولای شي په *http://www.cisco.com* کې وګوری: د سیسکو د تازه خبرونو لپاره *http://newsroom.cisco.com* ته لاړ شی.